په کتاب تبصره

# سحر په آئینه کښې

محمد زبیرحسرت

د پښتو ادبي ټولنه ارباب لنډۍ پېښور د صدر ښاغلي قربان علي مراد وړومبۍ شعري مجموعه ده چې په اول ځل جنورۍ ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوې ده. د قربان علي مراد په دې مجموعه ښاغليو مجاهد الله مجاهد، حنیف خلیل، ډاکټر مسعود زاهد، ارباب صابر حیات، ملک مسعود قاسم، میر احمد د لنډۍ، عصمت سوراني او افتخار احمد قاضي خپلو خپلو خبرو کښې ښاغلي قربان علي مراد ته د مینې او عقیدت پېرزونې وړاندې کړې دې او د دۀ شاعرۍ ئې د روان عصر ښکلې، په زړۀ پورې، رومانوي او مقصدي شاعري ګرځولې ده.

د عبدالستار شاه باچا بې نوا (رح) او امیرحمزه خان شنواري سره د مینې او عقیدت له رویه د قربان علي مراد په شاعرۍ د تصوف رنګ هم خوراوجوت لیدے شي او د رحمان بابا د مکتب فکر شاعرۍ کښې ئې کامیابي حاصله کړې ده.

د قربان په شاعرۍ کښې د حمدونو، نعتونو نه علاوه نظمونه او غزلونه هم شامل دي خو زښته زیاته برخه ئې د غزل ده.

په فخر الاولیاء سید عبدالستار شاه بې نوا عرف باچاجان (رح)، د حضرت عبدالرحمان بابا (رح) په عقیدت کښې، د حضرت امیرحمزه خان شنواري بابا (رح) په عقیدت کښې، د یار سرې شونډې کافرې، مونږه امن غواړو او پرېږده چې امن راشي نومي نظمونه ئې د ښاغلي شاعرانو سره د مینې او عقیدت څرګندونې دي او له دغو نظمونو څنې په شاعرۍ د رومانویت د سرو سره سره مقصدیت هم غلبه بریښي.

ښاغلي حقیق الاسلام مومند پرې خپل فلېپ کښې لیکلي دي چې:

"...... زۀ چې د ښاغلي مراد شاعري لولم نو داسې محسوسوم لکه چې د رحمان بابا او حمزه بابا د شعر روحونه د ښاغلي مراد د شعر روح سره طول شوي وي. د نور د سمندر دا لامبوزن هم ژورو ته ورکوزیږي او د خپل مراد ګوهر په لاس د تماشبینو (لوستونکیو) مخې ته ولاړ ښکاري.

...... د اسلوب (STYlE) په لحاظ سره هم ښاغلے قربان علي مراد د رحمان بابا د مکتب فکر (SCHOOL OF THOUGHT) یو غړے لیدے شي" (فلېپ) هم په دغه نکته نظر چې مونږ د قربان شاعرۍ ته ګورو نو هغه نۀ یواځې له جانانه قربانیږي بلکې له دورانه هم لوګے لمبه کیږي او دجهان له غمه ورله هم خوب نۀ ورځي او داسې د خپلې نامې او تخلص له رویه خپله شاعرۍ کښې اسم با مسمٰي لیدے شي. په ځائے د دې چې مونږ د دۀ د رنګ ورینې شاعرۍ څنې خپل انتخاب تاسو

ته وړاندې کړو، غواړو چې مجموعي طور ئې يو
غـزل کښـې د رومـان او مقصـد پـه زړۀ پـورې
تصويرونه وځېرو:

مينـه محبـت کښـې عجيبـه غونـدې قيصـې دي
نـيم زړۀ بـه دې يـار سـره وي نـيم زړۀ بـه دلـې وي

تاتـه مې پـه سترګو کښې ځـان نۀ ښکاري دلبره؟
هـر څۀ پکښـې ښـکاري چې اوبۀ چرتـه ربـې وي

زۀ ئـې چـې د حسـن او صـفت خبـرې اورم
حـورې پـه جنـت کښـې بـه هـم ټـولې پښـتنې وي

هلتـه بـه بـاران د پسـرلي ووري دلبـره!
چرتـه راخـورې چـې سـتا د زلفـو سلسـلې وي

څکـه مضطرب وي زمـا زړۀ سـتا پـه وصـال کښـې
سـتا اوږده اوږده بانـه مـې سـترګو کښـې لشـې وي

خـومره ګرانـه پېښـه وي يـاران چـې جـدا کېـږي
نورې اوښکې وتښتي، خو سترګو کښې دوه درې وي

مـخ زمـا پـه وينـو دې سُـور نـۀ شـي سـتمګره!
څکـه چـې چـړو نـه د ښـو څـوکې تېـرې وي

هلتـه بـه مـراده! څنګـه اور نـۀ اخلـي زړونـه
چرتـه چـې ديـدن لـه پـه نېټـو پسـې نېټـې وي

(صص ۳۷-۳۸)

## غمر ازي

د عوامي نېشنل پارټۍ يونين کونسل ميټاخېل کـرک پخـوانے صـدر طـارق عثمـان د جـون پـه يوولسمه نېټه ۲۰۰۸ په حق ورسېدو. انا لله و انا اليه راجعون.
مرحوم د بزرګ خدائي خدمتګار، عوامي نېشنل پارټۍ ضلع کرک سينئر نائب صدر سالار مراد ګل ورور، د اې اين پي ميټاخېل صدر سېف الله پلار او د ملګري استاذ جاويد عرفان ترۀ ؤ. ياده دې وي چې د مرحوم پلار محمد عظيم کاکا هم يو زوړ خدائي خدمتګار ؤ. د دوي کور به باچاخان او ولي خان خپل کور ګڼلو.
خدائے دې طارق عثمان ته په جنت الفردوس کښې ځائے ورکړي. امين

---

د عوامي نېشنل پارټۍ تحصيل کلاچۍ ضلع ډي ائي خـان جنـرل سـيکرټري قيـوم خـان لالا وفـات شوے دے، هغه يو رښتونے خدائي خدمتګار او د عوامي نېشنل پارټۍ يو کلک ملګرے ؤ.

---

د پښـتو ادب او صـحافت دوه درانـۀ شخصـيات سـلطان محمـد صـابر او ايـاز داودزے پـه حـق رسېدلي دي. پښتو او پښتانۀ به د هغوي کار او زيار ټول عمر ياد ساتي.

---

د زلمي شاعر او ليکوال اقبال حسېن افکار مور بي بي په حق رسېدلې ده. د پښتون اداره د دوي سره په دې غم کښې برابره شريکه ده. د الله نه مرحومې ته د جنت الفردوس غوښتنه کوي.